د افغانستان اسلامي جمهوریت

دلوړو زده کړو وزارت

د غزنی پوهنتون

د اقتصاد پوهنځي

# د افغانستان په صنعتي تصدیو کی د لګښتونو د بیلابیلو سیستمونو د پلی کیدو شونتیا

مؤلف: نذیر احمد شهیدی

د مضمون ښوونکي: محمد هاشم رشیدي

ترجمه: محمد نبي «آرین»

تر دی مخکي چی اصلي موضوع ته راشو ښه به دا وی چی دلګښتونو د سنجوولو په ارزښت پو شو.

## د لګښتونو سنجول:

دارزښتمندو معلوماتو په لاسته راوړلو او دیرو مهمو پریکړو په نیولو کی له تصدی سره خورا مرسته کوی.

په حقیقت کی تصدی د کیفیت په اړه پریکړه د تصدی په لګښتونو پوری تړاو لری.

د اقتصادیت او مولدیت د پرنسیپونو کنترول او څارل د لګښت د سنجولو په واسطه امکان پیدا کوی. او باید له پامه ونه غورځول شی. ځکه اول باید د تصدی مصارف معلوم شی ترڅو پریکړه وشی چی تصدی په کوم ځای کی ډیر مصرف کړی او په کوم ځای کی یی ډیر تولید کړی.

نو دلګښتنو سنجول دتصدی د بریالی کیدو او نه بریالی کیدو راز دی. او ډیر اړین معلومات دتصدی د رهبری په واک کی ورکوی.

یوه تصدی د خپلو موخودلاسته راوړلو لپاره کولی شی له بیلابیلو سیستمونو څخه ګټه واخلی ځکه د یوه سیستم دلاری نشی کولی خپلی ټولی موخی لاسته راوړی.

ددی لپاره چی دلګښتونو دبیلابیل سیستمونو په اړه پریکړه وکړو باید په دی پو شو چی د لګښتونو بیلا بیل سیستمونه د کومو موخو دلاسته راوړلو لپاره کارکوی.

ترټولو ښه معیار چی د هغه له لاری وکولای شو دیوسیستم دکیفیت په اړه پریکړه وکړو داده چی دا سیستم دی یوی تصدی د موخو دلاسته راوړلو لپاره څونه مناسب دی.

چی دهغه لپاره لاندی سیستمونه شتون لری:

» کلی سیستم: په دي سیستم کي لګښتونه په دو برخو ویشل کیږی انفرادی او ګډ چي انفرادی یی په مستقیم او ګډ یی د همغه مواضع په حامل باندی ویشل کیږي. او له همدی سیستم څخه په لویو یا هغه تصدی چی داوږد مهال لپاره وی ګټه اخلي.

» قسمی سیستم: په دی سیستم کي هم لګښتونه په دو برخو ویشل کیږی ۱: ثابت ۲: متحول چی ثابت له تولید سره رابطه نلری او تر یوی معلومی مودی پوری بدلون نکوی، خو متحول له تولید سره مستقیمه اړیکه لري دتولید په زیاتیدو سره زیاتیږی او په کمیدو سره کمیږی. له دی سیستم څخه په کوچنیو تصدیو او د لنډ مهال لپاره ګټه اخستل کیږی.

» د شته لګښتونو د سنجولو سیستم: په دی سیستم کی هغه لګښتونه په نظر کی نیول کیږی چی واقع شوی وی.

» دنورمال لګښت سجولو سیستم: اوسط د شته لګښتونو په نظر کی نیول کیږی.

» د پلان لګښتونو سجولو سیستم: په دی سیستم کی د راتلونکو دورو لګښتونه په نظر کی نیول کیږی. یا هغه لګښتونه په نظر کي نیول کیږی چی تر اوسه نه دی واقع شوی.

او دیادونی وړ دی چی پورتنی سیستمونه په خالصه توګه شتون نلری او په ګډه تری ګټه اخستله کیږی.

د سنجونو له مختلفو سیستمونونه د بیلابیلو موخولپاره ګټه اخستل کیږی لکه: دبیی جوړول، دکارتمام نیمه کارتمام او محصولاتو د ذخیرو او بیاکتنه، دتولید پرتله کول له نورو کورنیو او بهرنیو تصدیو سره، کتنه (نظارت) کنترول، دتولید اوپتیمال یا مناسب قیمت تاکل خرځلاو او داسی نور...

هغه پوښتنه چی مینځ ته راځي داده چی د لګښتونو سنجولو سیستمونو ترکومی کچی په حقیقی تصدیو کی تصدیو کی د پلی کیدو وړ دی.

مخکی له دی چی پورته پوښتنی ته ځواب وویل شی ښه به دا وی چی دهیواد د صنعتی تصدیو ستونزی وپیژنو:

له بده مرغه د افغانستان په تصدیو ددی اړتیا او ارزښت تر اوسه په پوليزه توګه ندی احساس شو چی لګښتونه دی وسنجول شی چی لاندی لاملونه لری:ــ

× دلګښتونو د سنجونی په برخه کی د تکړه او پو کسانو نه شتون یا کموالی. دانه یوازی چی دلګښتونو د سنجوونی په پرمختګ کی بلکی د افغانستان په صنعتی کیدو کی هم ستر رول لوبولی شی.

د منجمنت یا مدیریت له ارزښت څخه بی خبری هم دافغانستان د تصدیو لویه ستونزه ده چی په آسانی سره نشی کولی خپلی لویی ستونزی وپیژنی او حل لاری یی ولټوی.

او په پریکړو کی له حسابی امورو نه ګټه نه اخستل کیږی.

دسیالیت ستونزه هم له مهمو ستونزو څخه حسابل کیږی. او زمونږ په هیواد کی بانکی او مالی سیستومونو هم اړین پرمختګ نه دی کړی چی دا ددی لامل کیږی چی د هیواد تصدي له مالی ستونزو سره مخ شی او په آسانی سره نشی کولای مالی او پولی وسایل چمتو کړی.

دخامو موادو نشتوالی هم د هیواد د صنعتی تصدیو لویه ستونزه شمیرل کیږی.

د خرڅلاو کموالی هم د افغانستان دصنعتی تصدیو لویه ستونزه ده چی لاندی لاملونه لری: دبازار محدودیت، دپیرلو ځواک کموالی، د افغانستان د تصدیو رقابت د ځواک کموالی د بهرنیو تصدیو په وړاندي، او د خلکو د ژواند پخوانی تګلاره له مهمو ستونزو څخه حسابل کیږی.

ټولنیز چاپیریال د وټه ایز سیاست شرایط، او ددولت نه پرمختګ د افغانستان د لګښتونو د سنجونی له لویو لاملونه څخه ګڼل کیږی.

د پورته ستونزو په نظر کی نیولو سره له بده مرغه د افغانستان په زیاتره تصدیو کی حسابی امور او دلګښتونو سنجونه یا هیڅ په نظر کی نه دی نیول شوی او یا په شه توګه په مخ نه بیول کیږی.

له بده مرغه داستر ریښتیا باید ومنو چی د صنعتی افغانستان لپاره د تصدیو ارزښت هیڅ په نظر کی نه دی نیول شوی. ځکه حسابی امور او د لګښتونو سنجول د منجمنت په لار ښوونه او د تصدی په اراده کی خورا ارزښت لری. نو باید دولت ددی لپاره کوټلی ګامونه پورته کړی او هر اړخیز کوښښ وکړی.

لاندی پوښتنی مینځ ته راځي :

ددی لپاره چی د هیواد په صنعتی تصدیو کی د لګښتونو سنجول رواج شی له کومو تګلارو او امکاناتو څخه باید ګټه واخیستل شی؟

د افغانستان په صنعتی تصدیو کی له کومو سیستمونو څخه ګټه اخستل کیږی او کوم سیستمونه ګټور دی؟

لکه څنګه چی مخکی هم اشاره ورته وشوه د افغانستان په تصدیو کی یوه لویه ستونزه د تکړه او پو کسانو کموالي یا نشتوالی دی او د لګښتونو د سنجولو ارزښت تر اوسه د افغانستان په تصدیو کي نه دی احساس شوی.

ددغو نمګړتیاوو د حل لپاره کولي شو لاندی امکاناتو څخه ګټه واخلو:

» د هیواد د صنعتی تصدیو د لګښتونو لپاره کولی شو بهرنی کارپوهان وګمارو چی ددی په واسطه د پوکارکوونکو خلاه چی د افغانستان په تصدیو کي شتون لری د بهرنیو کارپوهانو په مرسته حل کړو.

» د افغانستان د صنعتی تصدیو کارکوونکي بهرنیو هیوادونو ته ولیږل شی ترڅو د لګښتونو د سنجولو سره بلد شی او دهغو له ستنیدو وروسته باید د افغانستان په تصدیو کی په دندو وګومارل شي.

پورته پریکړی په اداری او تشکیلاتو پوری اړوند دی او دهغی له لاری کولی شو کارکوونکو لګښتونه هم کم یا کنترول کړو. په همدی توګه دافغانستان دتصدیو همغه څه نا څه ګټه هم زیاتیږی.

پورته پریکړی د هغه تصدیو لپاره چی په منځنی او ټیټه برخه کی فعالیت کوی ګټور تمامیدی شی. خو په هغه توګه چی باید وای نشی یی حل کولای.

» بله د حل لاره داده چي دافغانستان له صنعتی تصدیو څخه مناسب کسان وټاکل شی او هغوي ته د لګښتونو د شنجولو او د حسابی امورو کورسونه ورکړل شی  او هغو هم اړدی ترڅو وروسته له فارغیدو څخه په تصدیو کي په دندو وګومارل شی. او له همدی لاری په دیراه انده موده کی په هغوی په دی وتوانیږی ترڅو حسابی امور او دلګښتونو سنجولو ته د افغانستان په تصدیو کی پرمختګ ورکړی. او په دی اړه باید د کسانو ټاکلو او تدریس په نظر کی ونیوول شي.

زما په نظر ددی لپاره اړینهن ده ترڅو د وتیزو چارو د کارپوهانو یوه ډله دداسي ستونزو دحل لپاره رامنځ ته شی. او په همدی ترتیب باید د هیواد به شته پوهانو څخه ستره ګټه واخیستل شی. په دی ډله کی باید د مالی وزارت سلاکاران، دسوداګریزو او ټولګټو، اقتصاد، د سوداګریزو خونو استازی، او د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي ښوونکو څخه د تدریس په برخه کی کار واخستل شي.

او ترڅنګ یی له بهرنیو کارپوهانو او د هغه لویو تصدیو استازی چی په خپلو تصدیو کی د لګښتونو د سنجولو سیستمونه څخه کار اخلی هم پکی شامل شی. او په لنډه توګه باید وویل شی چی په دی پروسه کی هغه کورنی او بهرنی کارپوهان چی په دی برخه کی عملی او علمی مخینه ولری ډیره ونډه واخلي.

د همدی ډلی له دندو څخه دی چی باید د افغانستان د تصدیو په پرسونل (کارکوونکی) په داسی توګه وروزل شی چی حسابی امور په زیاته دلګښتونو سنجولو په برخه ډیره وړتیا ولری. ترڅو په همدی ډول په ډیره لنډه موده کی وکولای شو د افغانستان په تصدیو کی د لګښتونو سنجول هم او په لاره واچوول شي. دولت باید داسی او دیته ورته کورسونه وهڅوي که دولتی وی او که خصوصي تر څو دیته لیواله شي چي خپل کارکوونکي په خوشحاله توګه همدی کورسونو ته ولیږی او ددی کورسونو فارغین باید له مادی پلو وهڅول شی.

او دی ټکي ته هم باید فکروشی چی د حسابی امورو ترڅنګ نوری د اداري او دتصدی اړوند موضوعات هم پکي تدریس شی. او په نتیجه کی دا ګټور اقدامات نه یوازی چی د هیواد دتصدی دحسابی امورو ستونزی حلولای شی بلکی هغه ستونزی چی دتصدی په لاربښونه کی هغوته په کم نظر کتل شوی هم حلوي شی.

زما په نظر پورتني حل لاری د افغانستان تصدیو ته دا امکان ورکوی چی خپل کارکوونکی په کم وقت او په کمو لګښتونو او په ښه توګه دخپلو کارکوونکو ستونزی حل کړی. او کولی شو له همدی لارو چارو څخه په ګټې اخیستنی سره په آسانی هغه څه لاسته راوړو چی په هڅه کی یی یو. خو دولت باید دا سلاکاران په هری ممکنه لاری وهڅوی. او د سلاکارانو دا ډله باید د حسابی امورو او لګښتونو د ارزښت په اړه ټولو دولتی او خصوصی تصدیو ته په ښه توګه بیان کړی. ترڅو هغه دا احساس وکړی چی کم وقت هغه څه کولی شي نو په هغه وقت کی به په ډیر شوق سره په داسی کورسونو کی ګډون وکړی.

د لګښتو سنجوول باید د لکچرنوټ له لاری وشی او په هغه لکچرنو کی باید عملی موضوعاتوته ډیره پاملرنه وشی او په ښه او عام فهمه ډول ترتیب شی او دافغانستان د تصدیو عملی مثالونه پکی ځای شی، او د ټولو برخو ځانګړتیاوی پکښی ځای پرځای کوښښ وشی چی په ساده او واضح توګه ترتیب شی ترڅو دکورسونو ګډونوال په آسانی سره وکولای شی له هغه څخه ګټه واخلی.

او دیادونی وړ ده چی ټولی تصدی باید له یو واحد د لګښتو د سنجولو سیستم څخه ګټه واخلی او دا حسابی چوکاټ باید په ټولو تصدیو کی په یو شان عملی شی او د لګښتونو حسابونه د حسابونو د کلاس، دحسابونو دګروپ، او د حسابونو په ځانګو وویشتل شي.

د یادو ستونزو د حل لپاره لازمه ده چی شته ستونزی په ښه توګه حل شی او هیواد دصنعتی کیدو خواته نژدی شی نو ددي لپاره اړینه دی چی په هیواد کی مسلکی ښوونځي زیاد شی. او دا ښوونځي باید زیاتره عملی بڼه ولري.

او اوس باید پوښتنه وشی چي د هیواد په تصدیو کی د لګښتونو د سنجوولو لپاره کوم سیستم څخه ګټه واخیستل شی؟ او دا سیستمونه د کومو موخو او څونه ګټور دی؟

دی پوښتنو ته باید د هیواد د تصدی د پراخوالی او غټوالی لمخی ځواب وویل شی ځکه د تصدی غټوالی د سیستم په ټاکلو کی خورا اړین او ارزښت ناک دی:

په کوچنیوا تصدیو کی چی لاندی ځانګړتیاوی ولری د لګښتونو د سیستمونو پلی کول اړین نه دي، ځکه اقتصادی پرنسیپونه ډیر متضرر کیږي لکه څنګه چی مخکی هم وویل شول د لګښتونو سنجوول هدف نه بلکی وسیله ده د موخو لپاره نو له همدی کبله د هیواد په کوچنیو تصدیو کی کی دلګښتونو دقیق سنجوول اړین نه دی او دا تصدی کولی شی داړتیا په وخت کی د لګښتونو د سنجوولو

له سیستمونو څخه ګټه واخلی، که چیری د هیواد کوچنی تصدی لاندی ځانګړتیاوی ولری نو هیڅ لازمه نه ده چی د لګښتونو د سیستمونو څخه دی کار واخلی:

» کله چي د تولید پروګرام یا طریقه یی ډیره ساده وی، او دتولید کیفیت عادی وی.

» کار پو کارکوونکی ونلری.

» ټکنالوژی یی ساده وی او یا هیڅ ټکنالوژی ونلری.

» په بازار کی د رقابت ځواک ونلری

نو که چیری پورته ځانګړتیاوی ولری نو د اوس لپاره اړینه نه دي چی د لګښتونو دسیستمونو څخه ګټه واخلی خو په راتلونکي کي باید دی ته زمینه برابره کړی ترڅو له همدی سیستمونو څخه ګټه واخلی.

خو دهیواد په منځني او اویه کچه تصدیو کی د لګښتونو د سیستمونو پلی کول اړین دی او باید په پریکړو له همدی سیستمونو څخه ګټه واخلي. نو د همدی لاری د تصدی د کارکوونکو معلومات ډیریږی او او د تصدی د اقتصادیت پرنسپ په نظر کی نیول کیږی. او په آساني سره کولي شی خپل اساسی او برآوردی لګښتونه په دیره دقیقه توګه وسنجوی او د اقتصادی سلاکارانو له دندو څخه یوه هم دادی چی تصدی د اساسی او برآوردی لګښتونو په ارزښت پو کړی.

روښانه خبره ده کله چی ټولګښتونه په دقیقه توګه ونه سنجول شی د هغو په حامل او مواضع باندی هم په دقیقه توګه نه ویشل کیږی. په اول قدم کی باید دهیواد صنعتی تصدیو کی (د لګښتونو ډولونه، دلګښتونو مواضع، او دلګښتونو حامل) د کلی سیستم په چوکاټ کی د شته لګښتونو په شکل مخته یوړل شی. له همدی لاری کولي شو فی واحد تولید وسنجوو،اړین معلومات د قیمت د ټاکلو په اړه لاسته راوړو، او ټولی تصدی داوړد محال لپاره باید کم ترکمه خپل لګښتونه جبران کړي چی دا د کلی سیستم له لاری لاسته راوړلی شو او دا سیستم په زیاته د دولتی تصدیو لپاره ډیر ارزښت لری.



Nabi Allah